# Appendix IV: Questions from Human Rights Watch to the Islamic Emirate of Afghanistan (IEA) (Pashto translation by Human Rights Watch)

**د پوهنې او زده کړې ، تولنيز محدوديتونه ، او د سزا ورکولو په اړه پوښتنې**

د بشري حقونو د څار سازمان د پوهنې او زده کړې لاسرسي ته زموږ د انديښنو په اړه يو نوی راپور چمتو کوي، په خانګړې توګه د افغانستان اسلامی امارت تر کنټرول لاندې سيمو کې د ښځو او نجونو د جامو اغوستلو قوانين ، د زيرک تيلفون (سمارټ فون) کارول او د يو ځای څخه بل ځای ته د تګ (خوځښت) آزادۍ او نورو چلندونو په اړه بنديزونه؛ او د افغانستان د اسلامی امارت لخوا د ځينو سرغړونو د مجازات د احکامو تطبيق. ما په لاندې توګه د اصلي انديښنو د سوالونو يو شميرلست خلاصه کړی. زه به مننه وکړم که تاسو دې پوښتنو ته ځوابونه چمتو او نوراضافي نظرونه واستوئ. که موږ دغه ځوابونه د يوې مياشتې په اوږدو کې ترلاسه کړو (د ۲۰۲۰ کال د جون تر دريم نېټې پورې) ، موږ به يې په خپاره شوي راپور کې شامل کړو.

**پوهنه او زده کړه:**

موږ د کندوز، هلمند او وردګو په څو ولسواليو کې ښوونې او روزنې ته د لاسرسي په اړه نظرواچوه. موږ پدې دريو ولايتونو کې د افغانستان د اسلامي امارت د رسمي پاليسی په پلې کولو کې د پام وړ توپيرونه وموندل. کله چې موږ يو کال دمخه د افغانستان اسلامی امارت دښوونې او روزنې د پاليسي په هکله ستاسو د پوهنې د چارواکو سره په دوحه کې بحث وکړ، دوی وويل چې د ولسواليو او ولايتونو ترمنځ تعليم ته د لاسرسي توپيرکې د انجونو تعليم مختلف کچومنل په خپله ټولنې اوامنيت پورې اړه لري . په بل عبارت، دوی وويل چې که ټولنه د تعليم غوښتنه ونکړي، نو پاليسي (د انجونو او ښځو تعليم ته اجازه ورکول) نه پلي کيږي. ايا دا سمه ده؟

**موږ د دې پوښتنو ځوابونه هم غواړو:**

- موږ په هلمند، کندوز او وردګو کې له بېلابيلو خلکو سره وليدل چې وېې ويل د افغانستان د اسلامی امارت په مشر تابه کې د نجونو د زدکړې په هکله اختلافات موجود دي. د مثال په توګه، موږ په ځينو ځايونو کې واوريدل چې نجونې يوازې ښوونځي ته تللی شي که چيرې ټول کارکونکي ښځينه وي، په شمول د محافظين او پاکونکي. ايا دا رسمي پاليسي ده؟
- داسې بريښي چې حتی په ورته يا نږدې ولسواليو کې هم توپيرونه شتون لري. د مثال په توګه ، موږ پدې حقيقت خبريو چې نجونې د کندز د ولسوالی په مرکزونو کې زده کړې کوي ، خو موږ خبرشوو چې د دشت ارچي د نجونو د سواد زده کړې او ځينې ښوونځي تړلي وو. د دې لامل څه دی؟
- ايا تاسو کولی شئ دا هم روښانه کړئ چې که ځوانې ميرمنې (پېغلې) د کندز له ولسواليو څخه اجازه لري د کندوز په پوهنتون کې برخه واخلي؟
- موږ په دې هم پوهيږو چې د کندز په نوآباد کې د نجونو نوې مدرسې جوړې شوې دي. په مدرسو کې کوم نصاب تدريس کيږي؟
- آيا په هلمند کې ، سيمه ايز طالب چارواکي د زده کړې د پاليسی په اړه پريکړې کولی شي چې د رسمي پاليسی څخه توپيرلري؟

- په ګرشک کې د پوهنې د چارواکو لخوا موږ ته ویل شوي و چې ترهغې پورې چې امن نه وي، نجونې باید ښوونځي ته لاړې نه شي. ایا دا په هلمند کې ستاسو رسمي پالیسي ده؟ موږ ته دا هم ویل شوي وو چې د انجونو لپاره ښوونځي ، ټولنې باید لومړی د انجونو د تعلیم غوښتنه وکړي. مګر که خلک باور ولري چې دا امکان نلري نو دوی به څنګه یوښتنه وکړي؟ ایا په هلمند کې د غیردولتي موسسو یا انجیوګانو د زده کړې برنامو ته اجازه شته؟

### ټولنیز محدودیتونه

کله چې موږ یو کال دمخه په دوحه کې ستاسو د چارواکو سره د دغو محدودیتونه په هکله بحث وکړ ، دوی وویل چې د ټولنیزو نورمونو پراساس د محدودیتونو په شرایطو کې د ولسوالیو او ولایتونو تر مینځ توپیر په دې سیمو کې د ځایی کلتورونو له امله و ، په ځانګړې توګه د ښځوکالیو اغوستلو مقررات او چلند او د کور څخه بهر ته وتل .

- آیا هلته د امربلمعروف او نهی عن المنکر ریاست شته؟
- آیا د چارواکو له خوا د دې ډول محدودیتونو پلی کول د ټولې ټولنې لپاره لازمي ده؟
- د زیرک تیلیفون (سمارت فون) په کارولو او د تلویزیونونو په هکله د افغانستان د اسلامي امارت رسمي تګلاره څه ده؟ په ځینو ولسوالیو کې موږ ته ویل شوي وو چې اجازه ورته نشته. زموږ اندیښنه او توجو خلکوته د معلوماتو ته لاسرسی دی ، د دې لپاره چې انټرنیټ ، تلویزیون ، راډیو او نورو ته لاسرسی لازمي دی.
- کله چې موږ تیرکال ولیدل، موږ خبر شو چې د افغانستان اسلامی امارت په رسنیو هیڅ ډول محدودیتونه نه وضع کوي پرته له دې چې دوی اسلامي ارزښتونو ته درناوی ولري. آیا اسلامي امارت په حکومتداری اویه خپله پالیسی او تګلاره کې انتقادي راپورونه په قبول کړي؟
- د جامواغوستلو مقررات ، حجاب ، او د کور څخه بهرد ښځو د وړتیا او تګ په اړه: موږ له ځینو خلکو (ټولنو) څخه واوریدل چې دوی ته ویل شوي وو چې دوی باید ځینې دودونه غوره کړي ( پوځانګړې ډول حجاب یا نوري جامې) دا د هغه څه څخه توپیر درلود چې دوی په عادي ډول ترسره کړې وو. د یوې بیلګې په توګه، د وردګو په جلریز ولسوالی کې، میرمنو ته ویل شوي وو چې د خپل دودیز حجاب پرځای بل رقم [حجاب] واغوندي. ایا ستاسو په پالیسیو کې امکان شته چې توکمیز لږکي (اقلیتونه) ته اجازه ورکړی چې خپل دود اوکردار تعقیب کړي؟
- د کورڅخه بهر د ښځو د وتلو محدودیتونو پورې اړوند: موږ پدې اړه ډیراندیښمن یوچې دا محدودیتونه څنګه د روغتیایي پاملرنې ته دښځو لاسرسي باندی اغیزکولی شي، په ځانګړې توګه که ښځینه طبي کارګران د خپلو کلینیکونو څخه بهر ووځي نو دا د مجربو کارکونکو استخدام ستونزمن کوي. موږ په دې اړه هم اندیښنه لرو چې آیا د سیمې میرمنې روغتیایي خدماتو ته لاسرسی لري، څکه چې دوی هم نشي کولی د نارینه خپلوانو پرته د کور څخه بهر ووځي. ایا تاسو کولی شئ پدې اړه خپله پالیسي روښانه کړئ؟

### له افغان حکومت سره د اړیکي د سرغړونې [په جرم] مجازات

- په ډیرو ولایتونو کې ، په شمول د هلمند ، وردګ ، کندز ، او لوګر، موږ اوریدلي چې افغان حکومت کې د ټنه له هر چا سره اړیکي په کلکه منع دي، او دهغو خلکو د کورنی غړي ته چې په افغان حکومت یا امنیتي ځواکونو کې

کار کوي سخته سزا به ورکول کیږي . آیا دا د افغانستان اسلامي امارت تګلاره ده؟ که داسې وي ، ایا دا حتی په ښوونکو او طبي پرسونل هم پلی کیږي؟

- ایا د هغه چا لپاره چي له دولت سره اړیکي لري د محکمي طرزالعمل موجود دی؟ څوک د محکمي ریاست کوي اومتهم شخص کوم قانوني مسؤلیت لري؟